بیانګر مبارزه برحق پولیس ملي

هفته نامۀ

# پولیس ملي

اوونیزه

د ملي پولیسو د برحقې مبارزې ښکارندوی

دور سوم ■ شماره 3 ■ دوشنبه 15/1/1401 هـ . ش ■ شماره مسلسل 370


کلـکه اراده باندې خـدمت په صــداقت کوه

ای د سنګر ځوانه تل د خپل ملت خـدمت کوه

الوزی نظـر چې، مـی آشنا د ننــګ ډګر ته ځي

تل د خپــلو خلــکو سـره مینـــه، محبت کـوه

دا د جنګ سکروټی اخر مړی او هم ایری به شي

ته په خپل وطن باندې مدام ننګ او غیـرت کوه

# کورنیو چارو سرپرست وزیر د ملګرو ملتونو له پلاوي سره وکتل






د کورنیو چارو سرپرست وزیر الحاج خلیفـه سـراج الـدین حقـاني د ملګـرو ملتونـو د سرمنشــي د معــاون او مــل پلاوي سره وکتل.

د ملګـرو ملتونـو د سرمنشــي معــاون مارتین ګریفیت او ورسره مل پلاوي د کورنیو چارو لـه وزیر څخـه مننـه وکړه چې د ملګرو ملتونو د ټولو ادارو امنیت په ښه توګه ټینګ شوي.

ښـاغلي وزیـر هـم لـه ګریفیـت څخـه د بشـري مرسـتو د دوام لـه املـه د مننـې ترڅنـګ وویـل: تیر شل کلونـه نړیوالـو هڅـه وکـړه چـې پـه افغانـانو د زور او تهدید له لارې خپلې غوښتنې ومني خو هغه څه چې ډېره هیلمندي رامنځ ته کـوي دا دي چـې مـوږ مســایل اوس د تفاهم او مذاکرې له لارې حل کوو.

ښـاغلي خلیفـه صـاحب وویـل: غـواړي نړۍ ته پیغام ورکړي چې مونږ متقابل تعامـل تــه قـوي اراده او پـوره امــادګي لرو.

د ملګـرو ملتونـو د سرمنشــي معــاون وویـل: غواړي پـه سبا ورځنـۍ نړیـوال کنفـرانس کـې د افغانسـتان لپـاره کلنـۍ څلور ملیارده ډالرو غوښتنه وکړي چې دا د ملګـرو ملتونـو پـه تـاریخ کـې بـې سارې کلنۍ مرسته ده.

سـرلیک

## روژه نفس ته پاکي او سکون وربښي

پدې کې شـک نشته چې د روژې مبارکـه میاشت داسې یوه میاشت دی چې د نړۍ ټول مسلمانان د خپل د نفس پـاکوالي پـه موخـه ترهغې چې شونې وي هڅـه کـوي او پـه دغـو مبارکو ورځـوکې د کـال د نـورو ورځـواومیاشـتوپه پرتلـه خلـک د سکون او د آرامتیا احساس کوي. ځکه چې پـه دغـو ورځوکې هرمسلمان نـه یـوازې د خـوراک اوڅښـاک څخـه ځـان سـاتي بلکې په ډېرځیرسره کوښښ کوي ترڅوخداي مـه کـړه پـه کـوم داسې عمل لاس پورې نکړي چې د الله ج د نـا رضـایتۍ او د خلکود آزار او اذیت سبب وګرځي. نـو پـوره ډاډ سره ویلاي شو چې روژه ټولنې ته سکون، امن او آرامتیا وربښـي. داچې د روژې مبارکې میاشتې پـه درشل کـې یـو نولازمـه ده چې د روژې د فرضیت اواحکاموپه اړه هـم یوڅـه رڼاواچول شي.

صـوم یـا صـیام چـې عربـي لفظونـه دي، لغـوي معنـا یـې مطلق امساک یعنې لـه خـوراک، څښـاک اوداسـې نـورو څیزونوڅخـه ځـان سـاتل دي. د شـریعت پـه اصـطلاح کـې صـوم د یـوه

ځانګړی عبادت نوم دی چې په نیت سره له سپیدوڅخه ترلمرلویدوپورې له خوراک، څښاک اوجماع څخه ځان نیول اوساتل دي. د روژې په اړه الله ج د قرآن عظیم الشان د بقرې د سورې (۱۸۳) آیت کې داسې فرمايي ژباړه:« ای مؤمنانوفرض کړی شوی په تاسې باندې روژه لکه چې فرض کړی شوې ده په هغه کسانوچې وړاندې له تاسې څخه ؤ».

همدا راز روژه د اسلام د دین له ارکانوڅخه دریم رکن دی او د رمضان المبارک د میاشتې روژه په هرمسلمان چې عاقل اوبالغ وي فرض عین دی. چې فرضیت یې په قرآن کریم، احادیثواواجماع باندې ثابت دي.

د نړۍ ټولومسلمانانوته لازمه ده چې د کال په ټولو ورځو، اونیو، میاشتو او په ځانګړې ډول د روژې په مبارکو ورځوکې خپلو بې وزلو مسلمانو ورونو سره کومک او مرسته وکړي. د ناوړو اعمالو لکه زنا، قتل، شوکمارې، غلااوداسې نوروکړنو څخه په جدي توګه ډډه وکړي چې د الله ج د نارضایتۍ اوپه ټولنه کې د نا امنیواوناخوالو سبب ګرځي. مونږټول پدې باوري یوچې هره ناوړه کړنه کولای شي چې د روژې د فاسد کیدواو ماتیدو وسیله شي. نوځکه مسلمانان ځان اړبولي چې په دغومبارکوورځوکې خپلو دوستانو، خپلوانو او هېوادوالو سره په ترحم او مهرباني سره چلندوکړي.

د کورنیو چارو وزارت د اړوندو قطعو او جزوتامونو منسوبان هم د روژې په میاشت کې نوروعادي ورځوپه څېرد خلکوپه چوپړکې دي. ملي امنیتي اودفاعي ځواکونه د هېواد او د خلکودښمنانوته به هیڅکله هم اجازه ورنکړي چې په دغو مبارکو ورځوکې د نا امنیو په رامنځته کولو سره خپلو ناوړو موخو ته ورسیږي.

# د کابل والي شيخ الحديث مولوي نداء محمد نديم حفظه الله د کابل ولايت د ولسواليو امنيې قوماندانانو سره غونډه ترسره کړه




د کابل والي شـيخ الحـديث مولوي نداء محمد نـديم حفظه الله د کابل ولايت د ولسواليو امنيې قوماندانانو سره غونډه ترسره کړه او پدې غونډه کې د ښاغلی والي ترڅنګ د کابل ولايت مرستيال والي مولوي محمد يونس مخلص، مولوي موسي جان ابراهيم د کابل ولايت امنيې قوماندانۍ مرستيال، مولوي سعد دکابل آمر امنيت هم حضور درلود.

د يادې غونډې موخه د ولسواليو امنيې قوماندانانو سره تعارف او دوي ته بعضې لارښوونې وې.

د محترم والي صاحب له لارښوونو څخه: قوماندانان بايد خپل کار ته پوره متوجه شي که کوم مشکل پيښيږي بايد فورًا يې د امنيې قوماندانۍ سره شريک کړي، د قول اردوګانو او کنډکونو سره ښه تفاهم او هماهنګي ضروري ده، د اختلاف څخه بايد لاس واخلئ او خپل منځ کې اتفاق او اتحاد ولرئ چې زمونږ کاميابي هم پدې کې ده، د امنيې قوماندان ستاينه يې وکړه، خپل نظم او امنيت ته ښه متوجه کېدلو، په چارو کې په خپل منځ کې مشوره سره کول، کوم مکتوبونه چې درزي اجرااتو ته جدي توجه کوئ، کوم صلاحيت او مسؤليت چې درکول شوې دی په هغې کې پوره واکمن ياستئ په جرأت باندې اقدام کوئ، مه د چا څخه وېرېږئ او مه د چا څخه متأثره کيږئ مونږ مو تر شا ولاړ يو، خو البته چې هرڅه مو د اصولو د شريعت سره برابر وي، د ظلم څخه لاس واخلي او ولس ته ښه خدمت وکړي.

ښاغلی مرستيال والي په خپلو خبرو کې وويل: قوماندانان بايد په خپل منځ کې سره مشورې ولري، په صفونو کې بايد سم خلک ځای پر ځای کړو، يواځې د زيات والي کوشش بايد ونکړو.

د امنيې قوماندانې مرستيال په خپلو خبرو کې وويل: د ظلم او زياتي مخه بايد ونيول شي، د بنديانو سره بايد ښه سلوک وکړو، په صفونو کې د نا اهلو خلکو د داخلېدو مخه بايد ونيسو.

د يو بل خبر له مخې:

د کابل والي شـيخ الحـديث مولوي نداء محمد نـديم صـاحب حفظه الله د کابل ښار امنيتي حوزو د استخباراتو مسوولينو سره غونډه ترسره کړه او پدې غونډه کې د محترم والي ترڅنګ د کابل ولايت مرستيال والي مولوي محمد يونس مخلص صاحب هم حضور درلود.

محترم والي صاحب په خپلو خبرو کې وويل: زمونږ د ناستې هدف دا دی چې ستاسو ستونزې او مشکلات واورو، کفارو د اسلام مقابله په هرډول کوله هغه لکه فيسبوک او داسې نور رسنيز تبليغات، مونږ اوتاسې بايد د استخباراتو د لارې مقابله وکړو، تاسو کولای شئ چې افغان ولس لپاره يو ډاډمنه فضا منځ ته راوړي، مونږ او تاسو بايد خپل منځ کې وروروالي، محبت، اتفاق او اتحاد ولرو، بايد هرکار په ښه ميړانه او قوت سره ترسره کړو، خپل منځ کې بايد هماهنګي ولرو، اصول بايد مراعات کړئ او په اصولو کار وکړئ، تواضع او عاجزي وکړئ، مونږ ته چې هرخدمت وي شپه او ورځ ستاسو په خدمت کې يو.

همدارنګه محترم مرستيال والي په خپلو خبرو کې وويل: استخبارات په نظام کې خاص اهميت لري لکه په وجود کې سترګې، امنيتي مسوولين بايد د استخباراتو مسوولينو سره ښه تفاهم ولري، کوم مشکلات چې دوي لري ان شاء الله هغې ته به وخت رسيده ګي کيږي.

# فضائل ماه مبارک رمضان

رمضان در لغت از (رمضأ) به معنای شدت حرارت گرفته شده و به معنای سوزانیدن میباشد. چون در این ماه گناهان انسان بخشیده میشود، به این ماه مبارک رمضان گفته اند. پیامبر اکرم (ص) می فرماید: ماه رمضان به این نام خوانده شده است، زیرا گناهان را می سوزاند.

رمضان نام یکی از ماه های قمری است که نامش در قرآن آمده است و یکی از چهار ماهی است که خداوند متعال جنگ را در آن حرام کرده است. (مگر جنبه دفاعی داشته باشد).

در این ماه کتاب های آسمانی قرآنکریم، انجیل، تورات، صحف و زبور نازل شده است. پیامبر اکرم (ص) می فرماید: ترجمه: "ماه رجب ماه خدا و ماه شعبان ماه من و ماه رمضان، ماه امت من است، هر کس همه این ماه را روزه بگیرد خداوند پاک همه گناهانش را می بخشد، بقیه عمرش را تضمین نموده، او را از تشنگی وآتش دردناک روز قیامت امان دهد". این ماه، در میان مسلمانان از احترام، اهمیت وجایگاه ویژه ای برخوردار و ماه سلوک روحی آنان است ومؤمنان با مقدمه سازی وفراهم کردن زمینه های معنوی در ماه های رجب وشعبان هر سال خود را برای ورود به این ماه شریف و پربرکت آماده میکنند و با حلول این ماه با شور و اشتیاق و دادن طعام و افطاری به نیازمندان، شب زنده داری وعبادت، تلاوت وقرآنکریم، دعا، استغفار، دادن صدقه، روزه داری و... روح وجان خود را از سرچشمه فیض الهی سیرآب میکنند.

بنابر این، میتوان گفت ماه مبارک رمضان ماه طهارت و ماه تخلق به اخلاق الهی است، وحقیقت و باطن آن عبارت است از رسیدن به لقای خداوند، آزادی از خود؛ آزادی از خود حیوانی، و تولد خود الهی.

گرچه ذکر تمام فضائل ماه مبارک رمضان از حوصله این مقال خارج است ولی پرداختن و ذکر برخی از فضائل آن از نظر قرآن و روایات اسلامی خالی از لطف نیست.

1- برترین ماه سال: ماه مبارک رمضان به جهت نزول قرآنکریم در آن ویژگی های منحصری که دارد در میان ماه های سال قمری برترین است، قرآنکریم می فرماید: ماه رمضان ماهی است که قرآن برای هدایت انسانها در آن نازل شده است.

2- نزول کتب آسمانی در این ماه مبارک: تمام کتب بزرگ آسمانی مانند: قرآنکریم، تورات، انجیل، زبور، صحف در این ماه نازل شده است. حضرت امام صادق (علیه السلام) می فرماید: «کل قرآنکریم در ماه رمضان به بیت المعمور نازل شد، سپس در مدت بیست وسه سال بر پیامبر اکرم (ص) وصحف ابراهیم در شب اول ماه رمضان وتورات در روز ششم ماه رمضان، انجیل در روز سیزدهم ماه رمضان و زبور در روز هجدهم ماه رمضان نازل شده».

3- توفیق روزه: در ماه رمضان خداوند متعال توفیق روزه داری را به بنده گانش داده است. «پس هر که ماه رمضان را درک کرد، باید روزه بگیرد». انسان افزون بر جنبه مادی وجسمی، دارای بُعد معنوی و روحی هم هست و هرکدام در رسیدن به کمال مطلوب خود، برنامه های ویژه را نیاز دارند. یکی از برنامه ها برای تقویت و رشد بُعد معنوی، تقوا و پرهیزگاری است. یعنی اگر انسان بخواهد خودش را از جنبه معنوی رشد و پرورش دهد وبه طهارت و کمال پس از دیگری بردارد و خود را سرگرم لذت ها وشهوات جسمی نکند.

4- وجود شب قدر در این ماه: شب قدر از شب هایی که برتر از هزار ماه است و فرشتگان در این شب به اذن خدا فرود می آیند وجمیع مقدرات بندگان را در طول سال تعیین می کنند ووجود این شب در این ماه مبارک نعمت و موهب الهی برامت پیامبر گرامی اسلام (ص) است و مقدرات یک سال انسان ها (حیات، مرگ، رزق و...) براساس لیاقت ها و زمینه هایی که خود آنها به وجود آورده اند، تعیین می شود و انسان در چنین شبی با تفکر و تدبیر می تواند به خود آید و اعمال یک سال خود را ارزیابی کند و با فراهم آوردن زمینه مناسب بهترین سرنوشت را برای خود رقم زند.

5- بهار قرآن: نظر به این که قرآنکریم در ماه مبارک رمضان نازل شده و تلاوت آیات آن در این ماه فضیلت بسیاری دارد، در روایات اسلامی، از ماه رمضان به عنوان بهار قرآن یاد شده است. چنان که حضرت امام باقر (علیه السلام) می فرماید؛ ترجمه: هر چیزی بهاری دارد و بهار قرآن ماه رمضان است».

بناً اگر در مورد فضیلت وفواید ماه مبارک رمضان سخن بزنیم خالی از مفاد نیست، ولی باید بدانیم که روزه طوریکه پیامبر اسلام (ص) و دیگر پیامبران فرموده اند ما باید در ماه مبارک رمضان روزه بگیریم، طوریکه از نوشیدن، خوردن، دیدن وغیره اعمال وکردار ما مطابق احکام قانون اسلام خویش را عیار نموده تا خداوند پاک گناه های مارا ببخشد وما شما را در این ماه توفیق عمل نصیب کند.

آمین یا رب العالمین. وسلام علیکم ورحمت الله وبرکاته.

پوهنیار سمونیار حبیب الله

# روزه و سلامت روانی

فلسفۀ تشريعي روزه تنها در بازداشت نفس از خوردن و آشاميدن و هم بستري خلا صه نمي شود، بلکه تمام اعضاي وجود انسان را در بر مي گيرد چون: چشم، گوش، زبان، د ست، پا وقدم از تمام ا نواع زشتي ها بايد اجتناب ورزد.

بلي در خلال يک ماه روزه مسلمان مکلف است که تمام ا عضاي بدن خود را از آلودگي به گناه نگه دارد، چنانچه پيامبر (ص) فرموده است: ترج مه ( روزه سپر است، هر گاه روزه بوديد، فحش وناسزا نگوييد، بي مورد چيغ وصدا نکنيد، اگر کسي به شما دشنام داد يا براي جنگ اقدام ورزيد، در پاسخ بگوييد من روزه دار مستم ) " بخاري ومسلم" . ودر حديث صحيح ديگر ميخوانيم که ميفرمايد : ترجمه ( کسيکه در حال روزه از گفتار نادرست وکردار ناشايسته پرهيز نکند ، پس خداوند (ج) به ترک خوردن وآشاميدن چنين شخص هيچ نيازي ندارد ) . اين پيام به صراحت نشان مي دهد که رمضان يک مدرسۀ بزرگ تربيتي است که رابطۀ انسان را با خداوند (ج) وقرآن عظيم الشأنش تأمين مي کند، امراض وکدورت هاي قلبي و بيماري هايي که قلب را مکدر وملوث ساخته است از آن دور مي سازد و به جاي آن، ارزشهايي زيبايي همچون: محبت، صميميت، اخلاص، تعاون، صداقت، همزيستي مسالمت آميز، برادري و برابري ميان انسان ها را به ارمغان مي آورد.

زبان مسئوليت سرنوشت سازي در ساختار شخصيت انسان دارد وعامل بسا نا بساماني هاي اجتماعي وغيره زبان به شمار مي رود و در عين حال بسياري از گناهان توسط زبان انجام مي شود، مانند: غيبت، تهمت، دروغ، توهين و تحقير مردم، دشنام و نا سزا، بيهوده گويي و غيره چنانچه در روايت صحيح آمده است، ترجمه: ( نمي افتاند مردم را در آتش به سر يا به عقب جز درو زبان ...) پس که يگانه راه جلوگيري زبان از اين گناهان، مصروف ساختن آن به کلمات شايسته، ذکر واستغفار، تلاوت قرآن وتمرين خاموشي در جريان ماه مبارک رمضان است.

به روايت ابوسعيد خدري (رض) پيامبر (ص) فرموده است : ترجمه (زماني که صبح به انسان مي دمد، تمام أعضاي بدن بر او إعتراض مي نمايند ومي گويند: در بارۀ ما از خداوند (ج) بترس، چون دوام واستقامت ما به وسيلۀ تو است، هر گاه استقامت وثبات داشتي، ما هم پايه دار مي مانيم واگر منحرف شدي ما نيز منحرف مي شويم ) " ترمذي".

پس رمضان مدرسۀ ايمان است که اوصاف بزرگي را براي مسلمين مي آموزد چون: تواضع، حلم، استقامت، عفت، حيا، قناعت، عفو و گذشت، ايثار و فدا کاري، صداقت، امانت داري، عدم دل بستگي به ماديات دنيا، دوري از تنش ها و کشمکش هاي مادي، عدم دل بستگي به ثروت و دولت، و در عين زمان، حس تعاون و همکاري بر ديگران، وارسي به حال مستضعفان و يتيمان و بيچاره گان، امر به معروف و نهي از منکر و بالاخره تأمين و تحکيم روابط با خالق و مخلوق مطابق به فرهنگ قرآن کريم را به نمايش مي گذارد .

# په هرات ولایت کې د پولیسو له روزنیز مرکز څخه ۴۴۴ تنه سرتیری فارغ شول




په دې غونډه کې چې د لویدیز زون د پولیسو په روزنیز مرکز کې جوړه شوې وه.

د کورنیو چارو وزارت د ښوونې او روزنې لوی قوماندان مولوي عبدالکریم "حسیب"، د هرات والي شیخ الحدیث مولانا نوراحمد اسلام جار، د پولیسو د روزنیز مرکز قوماندان مولوي محمد اسماعیل"هدایت"، د هرات د اطلاعاتو او کلتور رئیس مولانا نعیم الحق "حقاني"، د امنیې قوماندانی د امنیت آمر، د جناې مدیر شیخ سیدشاه "سعادت" او نورو نظامیانو د هرات ولایت ملکي، مخورو او لوړ پوړو چارواکو ګډون کړی وو.

په لویدیځ زون کې د پولیسو د روزنیز مرکز قوماندان مولوي محمد اسماعیل "هدایت" وویل، چې یادو فارغانو ته، له خانه د دفاع او جګړې، عملیاتي تکتیکونو، اصولو او له خلکو سره د چلند، مظاهرې. د بلوا، نظامي زده کړې، د کورونو او وسایطو د تلاشي په برخو کې زده کړې ورکړل شوي دي د هرات ولایت جنایي مدیر مولوي سیدشاه "سعادت" له دغو تولو مجاهدینو څخه مننه وکړه، چې په دې موده کې یې د زغم هڅه وکړه او ویې ویل، چې تاسو د دې وطن بچیان یاست، دا ستاسو ایماني او اسلامي دنده ده.

د هرات والي مولانا اسلام جار دې ته په اشارې سره چې له دې وطن څخه د اشغالګرو هېوادونو ماتې او وتل د دغو مجاهدینو د شل کلنو جهادي هڅو پایله ده، فارغانو ته یې لارښوونه وکړه چې تاسو د کفر او کفري هېوادونو پر وړاندې د اسلام لپاره جنګیالي یاست.

د افغانانو دیني او اسلامي ارزښتونه باید وساتل شي او د خلکو د ژوند او مال د امنیت په تأمین کې له هیڅ راز هلو ځلو ډډه ونه کړو.

مولوي عبدالکریم حسیب د ښوونې او روزنې لوی قوماندان له فارغ شوو مجاهدینو څخه وغوښتل چې د لا ښه امنیت په راوستلو کې تلاش وکړې او د دستور یې ورکړ چې د تخریبکارو ډلو سره په جدي توګه مبارزه وکړئ او په پای کې فارغ شوو مجاهدینو ته ستاینلیکونه ورکړل شول.

# په خوست ولایت کې ۲۵ کیلو ګرامه چرس ونیول شول



د خوست ولایت امنیې قوماندانی د نیشه یې توکو پر ضد د مبارزې مدیریت منسوبینو د ځانګړو عملیاتو په لړ کې سورګل نومي کس د 25 کیلو ګرامه چرسو سره ونیوه. یاد عملیات د ولسونو د اطلاع په اساس د علیشیرو ولسوالی د بتی په سیمه کې ترسره شول. د یادولو وړ ده چې له دې وړاندې هم د افغانستان ا.ا اتلو منسوبینو د خوست په ښار او ولسوالیو کې د نیشه یې توکو خرڅونکي او قاچاق کونکي نیولي او د قانون منګولو ته یې سپارلي دي.

د یو بل خبر له مخې:

د خوست امنیې قوماندانی د جنایي جرمونو پر ضد د مبارزې مدیریت له لوري د باک ولسوالی تره کی سیمې کې عبدالغفور نومي کس د غلا شوي موټرسایکل سره یو ځای ونیول شو. نیول شوي کس څو ورځې وړاندې د صدیق الله نومي څخه د خوست ښار دولس سوه فامیلیو اړونده سیمې څخه موټرسایکل غلا کړي وه چې د دقیقې اطلاع په اساس د غلا شوي موټرسایکل سره یوځای د امنیتي ځواکونو لخوا ونیول شول.

# په ننګرهار ولایت کې یوه اندازه اسلحه او مهمات ونیول شول



دننګرهار ولایت دچپرهار ولسوالی دامنیې قوماندانی مجاهدینو دیادي ولسوالی په اخوند کلي کې دیو کشفي راپور په اساس د عبیدالله په نوم یو کس له کور څخه یو راکټ انداز، یو میل کلاشینکوف، یو میل سنایپر، یو میل پیکا، دوه میله کربینونه، د پیکا شریدونه او مرمي او یوه انداز چانتي او دریشی چې په یو بیلر کې یې ځای پرځای کړي وو کشف او دمجاهدینو لاس ته ورغلي.

له لومړي مخ

# همکاری مردم و اقدامات پولیس (119)




با ایجاد فضای اعتماد میان مرکز اطلاعاتی 119 پولیس و شهروندان کشور بسیاری از مشکلات امنیتی مردم مرفوع گردیده است و شهروندان کشور از اجراآت سریع و به موقع 119 پولیس ابراز امتنان و خُرسندی نموده اند که پولیس 119 خواهان همکاری های هرچه بیشتر هموطنان خویش میباشد. به اساس همکاری های همیشگی شان درهفته یی که گذشت پولیس ملی به همکاری مردم به دست آورد های ذیل نایل گردیده است:

**دو مورد خنثي سازی ماین و مواد انفجاریه:**

دو حلقه ماین کنار جاده از قریه گل زایی خان خیل ولسوالی سیدآباد ولایت میدان وردک توسط تیم انجنیری ماین پاکی کشف و انفجار داده شد.

یک فیر سرگلوله هاوان از قریه قلعه سردار ساحه ولسوالی پغمان ولایت کابل دریافت و توسط تیم انجنیری خنثی گردید.

**دستگیري (10) تن سارق ازمرکز وولایات:**

دستگیری یکتن سارق به اسم گل محمد فرزند جمعه به اتهام سرقت اموال منزل از دروازه شهر هرات ساحه حوزه هفتم امنیتی قوماندانی امنیه ولایت هرات.

دستگیری چهار تن سارق به اسم های محمد هارون فرزند محمد کبیر، بی بی هاجره بنت عبدالقادر، فواد فرزند فقیر و مجاهد الماس فرزند محمد عارف همراه با یکعراده واسطه نوع کرولا مادل 1997 برنگ جگری دارای نمبر پلیت (ش17778-5 کابل) از ساحه سمت ششم دشت گیله گی ولایت بغلان.

دستگیری یکتن سارق به اسم مختار فرزند رحم الدین 28 ساله ، به اتهام سرقت دوکان همراه با یک میل تفنگچه نوع ترکی دره یی دارای سریال نمبر (022f10-06100t) از قلعه غیبی ساحه حوزه هفتم امنیتی شهر کابل .

دستگیری یکتن سارق به اسم همایون فرزند حاجی حبیب الله سن 30 ساله از افشار دارالامان ساحه حوزه ششم امنیتی شهر کابل .

**دستگیري سه تن سارق به مظنونیت سرقت واسطه:**

دستگیری اسامیان هریک فیصل ولد حبیب الرحمن، حنیف مشهور به جوگی ولد عبدالصبور، صفی الله ولد مرزا از سرک قانونی ساحه حوزه یازدهم شهرکابل.

**دریافت یکعراده واسطهٔ سرقت شده:**

سارقین مسلح یکعراده واسطه نوع کرولا برنگ سفید مادل 2015 دارای نمبر پلیت( ش68992-5 کابل ) از ساحه سرک اول کارته نو مقابل دروازه شاروالی با تهدید اسلحه دست داشته خویش به سرقت برده، واسطه متذکره توسط پرسونل حوزه هشتم تعقیب، سارقین در ساحه قلعه احمد خان مربوطه حوزه شانردهم امنیتی پولیس واسطه را رها نموده، کلید، دوقاب پلیت واسطه متذکره، دو عدد موبایل نوع گلکسی A8 معادل25000 بیست و پنج هزار افغانی و معادل 24000 بیست وچهار هزار افغانی را بسرقت برده واسطه به حوزه هشتم انتقال و به مالک آن تسلیم داده شد.

**دستگيري يکتن به مظنونيت فروش گوشت حرام:**

دستگیری یکتن به اسم نور احمد فرزند امیر محمد که 49 سال عمر دارد و باشنده اصلی و فعلی ولسوالی ده سبز ولایت کابل میباشد، همراه با یکعراده واسطه سراچه به رنگ سرمه یی دارای نمبر پلیت (ش27971-2کابل) به مظنونیت فروش گوشت حرام از ساحه حوزه اول شهر کابل.

**دریافت ماشین فلزکاري:**

سارقین یکمقدار اموال مربوط شرکت آب معدنی ولید واقع سرک کوچکین مربوط حوزه هفدهم شهر کابل را سرقت نموده و در 100 متری ساحه مذکور یک پایه ماشین فلزکاری معادل (39000) سی و نه هزار افغانی توسط پرسونل پولیس حوزه مربوطه دریافت گردید ، از اثر سنگینی وزن سارقین قادر به انتقال آن نشدند و به مالک شرکت فوق الذکر تسلیم داده شد.

# POLICE
NATIONAL WEEKLY

د لیکنې پلاوي تر نظر لاندې

| | |
|---|---|
| قاری سعید «خوستی» | رئیس |
| مولوی جاویدالرحمن «حسینی» | عضو |
| پوهنوال سمونوال سید عبدالقیوم تابش | = |
| سمونوال سید احمد زبیر «میرزاد» | = |

| | |
|---|---|
| صاحب امتیاز | وزارت اموداخله |
| مدیر مسئول | سمونوال میرآغا «ستانکزی» |
| سکرتر مسئول | سمونیار عبدالطیف |
| برگ آرا | سیدخیلی |
| شماره تماس | 0791156326 |
| تیراژ | 5000 |
| محل چاپ | مطبعه معاونیت طبع و نشر ریاست روابط عامه، ریاست عمومی ارتباطات استراتیژیک |

دور سوم ■ شماره 3 ■ شماره مسلسل 370 ■ Monday 4 April


## دکندز ولایت دامنیتي ځواکونو لخوا څلور تنه جوار ګر ونیول شول



یاد کسان دوست محمد د صاحب نظر زوی، روح الله دعبدالکریم زوی، عبدالغني دعبدالله زوی، عبدالجمیل ددستګیر زوی، دکندز ښار اړوند دپنځمې ناحیې اوسیدونکي په داسي مهال چې په جوارۍ بوخت وو، دکندز ولایت دپنځمې امنیتي حوزې دامنیتي ځواکونو لخوا دیادې حوزې اړوند جرګذر سیمه کې د جوارۍ په مهال باالفعل دجوارۍ له وسایلو سره ونیول شول.

دیادونې وړده چې یادکسان په غلاوو او لاره شکونو اوداسې ورته نورو جرمونو هم متهم دي چې دامنیتي ځواکونو تر تعقیب لاندې وو چې بلاخره ونیول شول.

یادو کسانو په خپل جرم اعتراف کړی او دلازیاتو تحقیقاتو او څیړنو لپاره اړوند ارګان ته وسپارل شول.

## دپکتیاولایت ډنډې پټان ولسوالی کې د داخلي امنیت ځیرکو مجاهدینو لخوا دوه میله کلاشینکوف ونیول شول



دپکتیا ولایت ډنډې پټان ولسوالۍ دداخلي امنیت ځیرکو مجاهدینو لخوا دوه میله کلاشینکوف، تقریباً نهه دیرش (39) ګنټې دکلاشینکوف مرمۍ اته (8) دانې شارژورونه او یو دانه چانټه او یوه دانه زغره دیو کشفي راپور پربنسټ ونیول شول!

د یو بل خبر له مخې:

دپکتیا ولایت زرمت ولسوالی کې یو تن صمیم الله دخیرالله زوي د کشفي راپورونو پر بنسټ دامنیتي ځوکونو لخوا د سل ګرامه چرسوسره یوځای ونیول شو، یاد کس اصلاً دلوګر ولایت دخروار ولسوالۍ اوسیدونکی دی اوفعلاًدپکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ سورکي سیمه کې اوسیږي، اویاد نیول شوي کس مخکې هم دچرسو په پلوراو خرڅلاو تورن وو!

# د هرات د خاصو قطعاتو له قوماندانۍ څخه ۱۶۰ تنه مجاهدین له مسلکي روزنتون څخه فارغ شول




په دې مراسمو کې د هرات والي شیخ الحدیث مولانا نوراحمد اسلام جار، د هرات د امنیتي کمیسون رئیس مولوي عبدالقیوم "روحاني"، د هرات د امنیې قوماندانۍ د جنایي جرمونو مدیر مولوي سیدشاه "سعادت" د هرات ولایت د خاصو قطعاتو قوماندان مولوي نثاراحمد"خالد" او د ولایت نورو ملکي او نظامي چارواکو، مشرانو او علماوو هم حضور درلود.

دغو ځواکونو د کورس په ترڅ کې د نظري او دیني کورسونو، فکري روزنې، ځانګړي عملیاتي تکتیکونه، سپورتي او تخنیکي زده کړې، شپني عملیات او نورو ستونزمنو دندو په ګډون ځانګړې روزنه ترلاسه کړه.

د هرات والي مولانا نوراحمد اسلام جار دې ته په اشارې سره چې اوس په ټول هرات کې امنیت ټینګ شوی، زیاته یې کړه: دغه ځواکونه د دښمن د هر ډول بریدونو د شنډولو لپاره چمتو دي او خلکو ته یې ډاډ ورکړ چې د خپلو دندو لپاره چمتو دي.

بهرنیو پروپاګند او افواهاتو ته ارزښت مه ورکوئ." او له دغو ځواکونو سره همکاری کوئ.

د هرات د امنیې قوماندانۍ سرپرست مولوي سیدشاه "سعادت" په خپلو خبرو کې وویل، اوس د دې وخت رارسېدلی چې ټول مجاهدین او امنیتي ځواکونه د محمد رسول الله تر بیرغ لاندې د خپلو خلکو خدمت وکړي او د الله تعالي رضا او بریالیتوب تر لاسه کړي او دنیوي او اخروي ثواب کسب کړي.

د مراسمو په پاي کې د فارغ شویو ځواکونو له خوا د مارشل آرټ حرکتونه او مسلکي تمرینات ترسره شول.

# د کندهار ولایت داسلامي پولیسو د ښوونیز او روزنیز مرکز څخه د زابل ولایت د 102 تنو پولیسو دفراغت په خاطر غونډه جوړه شوه



د زابل ولایت امنیې قوماندانۍ دغونډو په تالار کې دکندهار داسلامي پولیسو دښوونیز او روزنیز مرکز څخه دفراغت په خاطر غونډه په داسې حال کې ترسره شوه، چې د یاد مرکز څخه دجنوب غرب زون دځلورو ولایتونو څه کم (500) تنه دنظامي او بدني زده کړو څخه فارغ شول. چې د زابل ولایت د امنیې قوماندانۍ (102) تنو پولیسو پکښې برخه درلوده. فارغ شویو پولیسو ته هم د زابل ولایت امنیې قوماندانۍ مقام د رهبرۍ له لورې دتشویق په خاطر یولړ مراسم نیول شوي وه.

چې دیادو مراسمو په ترڅ کې د زابل امنیې قوماندان مولوي محب الله ایوب اخندزاده دامنیت آمر مولوي موسی کلیم ابو النصر جنایې مدیر مولوي عصمت الله کرامت اوګڼ شمېر نورو منسوبینو برخه درلوده. ټولو مسئولینو دوي ته دوینا پرمهال لومړي ددوي څخه خوښې وښوده چې ورکول شوې زده کړې یې په کامله توګه سرته رسولې.او کوم غفلت ئې نه دی پکښې کړی. او ورپسې یې دسپارښتنې په خاطر زیاته کړه. چې دخلکو سره دې ښه سلوک اوچلند کوي. او خپله وظیفه دې په پوره صداقت او ایمانداری سره مخته وړي.هغوي وویل چې تاسو باید خپل نظام او خپلې خاورې ته ژمن ووسئ ځکه چې په وینا یې همدغه نظام دی چې تاسو ته یې دزده کړو او روزنې زمینه برابره کړې او پر تاسو ئې لګښتونه کړي.

# خوست: د کورنیو چارو وزارت څخه راغلي پلاوي سره ناسته تر سره شوه

خوست ولایت ته د کورنیو چارو وزارت د حمایوي ریاست څخه یو پلاوي چې مشري مولوي ګل امیر خان کوله راغلی او په امنیې قوماندانۍ کې یې له امنیې قوماندان، د ټولو ولسوالیو امنیې قوماندانانو او د نورو مختلفو ادارو له منسوبینو سره ناسته ترسره کړه.

په یاده ناسته کې خوست امنیې قوماندان مولوي محبوب شاه قانت پلاوي ته د ښه راغلاست تر څنګ له دوي مننه وکړه چې د دوي اړونده ادارو د ستونزو هواري، او ضروریاتو حل په موخه خوست ته راغلي.

بلخوا د راغلي هیئت لخوا په ناسته کې د امنیې قوماندانۍ پرسونل ته سپارښتنه وکړه چې د هر ډول ضروریاتو لیست ترتیب، او ورته یې وسپاري تر څو په ادارو کې شته ستونزې، له منځه لاړې شي.

د ناستې په پاي کې د هېواد او ولس د پرمختګ لپاره د الله په دربار کې لاسونه لپه شول.